①

Date:__________ Day:__________

س: ټپه څه ته وائي:-

Da tol answers length yao umra sata
Sa shair tashreeh zaruri da

ټپه د اولسي ادب یوا هم او زړه پورې
صنف دی۔ ټپه په دوه نیمو سره او زیږي شي په دې وجه
دې ته ټپه وایي۔ ټپه د غمجو زړونو ټپار دی۔ چې
کله بشپړانه یو بل سره بحث کوي او په هغې سني وائي
چې ثبوت وړاندې کړي که لو په هغه وخت کښې
د ثبوت په طور ټپه ویلې کیږي او هم په دې
وجه دا د پښتون قام د زړه هنداره ګڼلې شي۔
په ټپه کښې همېشه دوه مصرې وي
چې یکښې یوه (اولنۍ) مصره لنډه وي او دوېمه مصره یکښې
اوږده وي او هم په دې وجه دې ته لنډۍ هم وائي۔

د مثال په طور پوهېږي:-

۔ په تور لاس د کړنګې په ناري کم
زه د دنیا نه ارماني راغلې یمه
۔ ځا بانره ور ته لوګي وناځي
زوا مانه په جانان بدر راغلې دیمه
۔ جانان د دوړ او پلاره پوره دی
زکه مې او ښکلي د ښاز پښو سترګو رېمه
۔ سړي په قوم نه سړي کیږي
سړي هغه دي چې ځي کار د سړو ورېنه
۔ ما له د خیل زېړ خپشتې بنیا دي
ترنارا پوری قلفي راسره ورېنه
۔ که به شپو یارانې وړیکې
نه حسنه ځا به خپل جانان باور دې راشیه

3

CamScanner

سوزېږي مې سوري وښي تر پاس
د غم چړچڼي پکښې چاڼي چوهېږي.

دا دي بره ذکر شوي ټپونه د ظاهره شوه چې پښتون قام په ژوند کښې څه قسم حالاتو سره مخ شوي دي په وخت وخت ئې ټپې ويلې دي ځکه ورته د پښتون قام د ژوند هنداره ويلې شي.

* * *

## د خوشحال بابا ژوند:

خوشحال خان بابا پوره نوم خوشحال خان خټک دی کوم چې په سرائې اکوړې کښې د شهباز خان کره په 1022 هجري کښې زېږېدلی وو. دا یو نابغه روزګار او همه ګير شخصيت وو. خوشحال خان بابا يو اعلى شاعر، اديب وو. د جنګ ورباب سره ئې هم مينه وه او قلم ئې هم په ډېر مهارت سره استعمال کړی. خوشحال خان بابا د توره په سوري کښې پيدا شوی وو او هم د توره په سوري کښې لوی شوی وو. شهباز خان د مغلو له طرفه د ټولو خټکو خان وو. کله چې شهباز خان وفات شولو د مشرۍ لنګۍ پګړۍ د خوشحال خان بابا په سر شوه او د مغلو منصب دار شو. بيا د يو څو ښېدار په وجه اورنګزيب بادشاه په مختلفو جېلونو کښې وساتلو چرته ئې چې زړه ځغلو نو سر د فکرونو چړې شو د غه وخت کښې د مغلو او پښتنو خپلو مينځ

کښې تعلقات خراب شو نو خوشحال بابا بیا د
ایمل خان مومند او دریا خان اپریدي په ملګرتیا د
مغلو سره په جنګ ملا وتړله لکه چې وائي:

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالي د زمانې خوشحال خټک یم

## د خوشحال خان خټک د شاعرۍ اړخونه:

د خوشحال خان بابا د شاعرۍ اړخونه څلور دي:

1) قامي او وطني شاعري
2) اخلاقي شاعري
3) رزمیه شاعري
4) عشقیه شاعري

## 1 وطني شاعري:

وطني شاعري د خوشحال خان خټک د شاعرۍ ډېره اهم برخه ده - ده په قامي شاعرۍ کښې نه یو خوا د پښتنو د تړون او معاشرتي ژوند حالات او خوبیا بیان کړي نو بل خوا یې د هغوی د کردار خرابۍ هم بیان کړي او د ښه کولو کوشش یې کړی
خوشحال بابا د پښتنو د اتفاق ډېر غوښتي حامي وو او کوشش یې کړي چې دوي کښې بې اتفاقي ختمه کړي لکه چې وائي:

که هر څو د پښتنو نر مغل خوا ده
اتفاق ورسره نشته دی ډېر ارمان
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوانۍ

په دې شعرونو کښې خوشحال بابا وائي چې افسوس
پښتنو کښې اتفاق نشته او وائي چې که پښتنو کښې
اتفاق راشي نو زه به د بر خوشحاله شم او دوباره به
ځوان شم۔

نه د رست پښتون له قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ پکار پټ او اشکار
نه امر پرې حرمند شینواري کوره ځه که
د خلو لښکر پروت په ننګرهار

بو بل ځای کې وائي:

د پښتانه واړه برخوې دي
کور په کور فانزي غوروزي
پو چې سر فانزي په پوره
بل ئې وهي حغزي

## ٤. اخلاقي شاعري:-

خوشحال خان بابا اخلاقي شاعري هم لوجوت
فقامي تري ځکه چې د پښتون قام ته د مسلسل جدوجهد
او مصیبتونو سره د مقابلې درس ورکړي دي او اخلاقیاتو
په هراړخیز خیال او فکر کړي دي۔ خوشحال بابا د دروغو
خلاف هم داسې وائي:

نه چې دروغ تر خولې او باسي قلم خوله ده
چې رښتیا تر خولې او باسي خوله همغه ده

په دې بره شعر کښې خوشحال بابا همغه خوله او
خوله نه ګڼي کوم نه چې دروغ وائي۔
خوشحال بابا د منت کو بو هم خلاف دي لکه چې وائي:

Date: Day:

سه د منت دارو که مرهم پیدا مي نه دي

که علاج لره مي راشي مسیحا هم

خوشال بابا هغه انسان ده پر خو شخصیت کښې کم چې

ده خدائي د مخلوق سره خه سلوک او نیکخواهي کوي

او د خوښۍ نصیحت ئې کښې لکه چې وائي:

چې د خلقو نیک خواهي لري په زړه کښې

چیارۍ شته په بادشاهي لري په زړه کښې

لو خو اکه خوشال بابا کامیابي او کامراني په کوشش

کښې لټوي نو بیا خو ا د خپل عزم او ارادي پوه مضبوط

شخصیت دي د ملکي ارادي باره کښې راسي وائي:

د نر مطلوبه پوري شرط د رسیدو دي

که تماماه ا رپه وینو شي الوده.

### 3 د خوشال بابا رزمیه شاعري:

رزمیه شاعري د خوشال خان خټک د شاعري

هغه اړخ دی چې کوم کښې خوشال بابا د توري،

جنګ جګړو او پښتو ننګ باره کښې ذکر کړي- خوشال

خان بابا هغه شخصیت وو چې په لو وخت شاعر ادیب

او نقاد زن او حکیم وو. د پر مصیبتونو باوجود هم په

خپل عزم قائم ولاړ وو لکه چې وائي:

نه به توره غوڅوي بیا ننګیالي راشي

نه به توره غوڅوي بیا جنګیالي راشي

خدای لا پیر بوده په درست جهان کښې

عجب که هسې فر هنګیالي راشي

خوشال بابا د خپل قام د زوال علتونه وجې معلوم

کړي وي او د پښتون قام مې ژوره مطالعه کړې ده
او د هغو لوی خرابو وجه ئې بې اتفاقي ګڼلې ده او په دې
افسوس والا بوده ئې:

اتفاق په پښتنو کښې پیدا شي
ګنې ما به د مغل ګریوان پاره کړ

چې په خوب کښې په لرزه پرېوزي اکثه
چې د چا تر غوږ کړي زما د توري شرنګ دی

که په دا دور مې ګورې ډېره زړه ئیم
چې مې داغ په خاطر ایښې د اورنګ دی

د درست جهان مې د مغل ورته حیران کړو
ځای په ځای پښتانه ورته قلنګي دي.

۱۶ د خوشحال خان بابا عشقیه شاعري:-

خوشحال بابا عشقیه شاعري لوړ مقام لري.
د محبوب په مینه او په ښائسته کښې ئې هم خپل لوړ مقام
او شخصیت برقرار ساتلی او د پښتونولۍ رنګ پکښې
ځلېږي. خوشحال خان بابا خان لوړ مثاله عاشق
ګڼلی شي چې وائي:

ـــ په درست جهان به نه وي لوڅ اغوندي پر سوال
ورځ توره وکښلي چې مئين وا وړم په تايل

لوبل ځای کښې خپله معشوقه په دې الفاظ ستايي:

ـــ توري تورې زلفې کبود خال پکښې کنتره
راښه کړې کوبې پرې بندي لوڅه شهباز دي

خوشحال بابا د خپلې وعدې پر وخت سړی دی که د وجود
نه يې سر هم بيليږي لو بيا هم په وعده ټينګ ولاړ وي لکه
چې وايي:

ـــ ګلې سر درومي اله ننه لوربانه شي
د خوشحال چې د خپل يار سره ميثاق دی

خوشحال بابا کله د محبوبې په عشق کښې دومره لوي
مقام ته اورسي چې د خپلې معشوقې مړي جوړه بدل
خوراي:

ـــ د خانه د توري کار لشتانه په عشق کښې
معشوقو ته هرګي اوسه خوشحاله.

س ځ: **حمزه بابا څوک وو؟**

حمزه بابا د لنډي کوتل په مقام د ملک مير باز خان
کره په کال ۱۹۰۷ء کښې زيږيدلی وو۔ ابتدايي
تعليم يې خپل کلي کښې حاصل کړو بيا اسلاميه کالج
کښې داخل شو خو تعليم ته يې ډېره ونه لګېده او په
نهم جماعت کښې يې تعليم پرېښود۔ حمزه بابا
په ۱۹۲۰ء کښې اردو شاعري کوله بيا د خپل پير

عبدالستار شاه په وینائي په اردو کښې ~~تعلیم~~ پر بنود
شاعري پر بنود او پښتو کښې یې شروع کړه. حمزه بابا
صرف شاعر نه وو بلکه یو څو برخیز ادیب، نقاد، ناول نویس،
عالم او نقاد وو. دا اوچت شخصیت په ۱۸ فروري
۱۹۹۴ء کښې د حمزې په ورځ په حق ورسید و خو زمونږ
په زړونو کښې په د بابا غزل ترقیامته ژوندي دي:

؎ څه وائي اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو سره ځم

د حمزه بابا د شاعرۍ اړخونه:-

1) تصوف
2) پښتونولي
3) اخلاقي شاعري

1) د حمزه بابا تصوف:-

حمزه بابا یو کلک مسلمان وو او د حنفي فقې پیروکار
وو. د سلوک په دنیا کښې د وحدت الوجود نظریې
قائل وو لکه چې وائي:

؎ څه ادراک دی د وجود او نور سوا چې دي عدم دي
دا شه چې یو نکه کورو هم هغه دي نور څه نه دي

د وحدت الوجود نظریې باره کښې یو بل ځائ وائي:

؎ یا خو هیڅ نشته دا واهمه وهم و خیال دے
او که وي نو بس د یار دي او وي وجود

یو بل ځائ وائي:-

؎ ما د یار د که مخ کړیا څه حاصل دي
آئینه به آئینې ته مقابل که

Date: ______ Day: ______

حمزه بابا یو بل ځای وايي:

؎ محسوس په حقیقت کښې هم هغه دی لور څه نه دی
په پښتو شرګو ګوره دا چې ګورې دا لیده شي

ډاکټر اقبال نسیم صاحب وايي چې د سلوک او تصوف
په لاره یو سالک د خپل پیر په رهنمايي کښې مخ په
وړاندې روان وي او بیا یو مقام دا سې شي چې دا
سالک نور مخ په وړاندې نشي تلی او هغه ته د نور
د یافت ضرورت وي لکه چې وايي:

؎ پایه دو رو بڼاره کوي وهاته
دکائنات به زړه کښې د رازونو زه

د حمزه بابا کلام کښې پښتونولي:

حمزه بابا یو پښتون مزاجه، پښتون دوسته او
په پښتون قام مئین شاعر دی- هغه د اسلامي
تعلیماتو پابندي عمل کړ او د پاره پښتون طبیعت هم بر
ور زن کښې:

؎ ما حمزه له شربې باده خاونده
په بنا کلي پیمانه کښې د افغان را

حمزه بابا عشق او مینه هم په سوال نه شي مجبوري
مینا څه په فخر کوي لکه چې وايي

؎ عشق ته خودبین یې زه پښتون یمه
وانه ده بنوري ګډا نشتر کو نه

یو بل ځای کښې حمزه بابا پښتون د سما د ښمنه
خلقو ته جواب ورکوي چې:

؎ وايي اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو سره ځم

حمزه بابا په پښتو ده مره مین دی چې د سعودي عرب په سفر هم د پښتنو په قافله کښې تلل غواړي

ـــه حمزه ستړی که د حجاز ویا نو هم
زه د پښتون په قافلو سره ځم

د حمزه بابا اخلاقي شاعري:

حمزه بابا که څه هم خوږه خیله شاعرۍ کښې د عشق و محبت، تصوف او سلوک او پښتونولۍ موضوع چېړلې دي خو اخلاقي او اصلاحي شاعري ئې هم خه په کمال کړې ده لکه یو ځائې کښې ئې د رسمونو او رواجونو پر پښو د درس ورکړی:

ـــه ولې په سند کښې د نخرونو دوبیدل غواړې ته
رسم و رواج پر پښو ده که بیا او جنید ل غواړې ته

یو بل ځائې کښې حمزه بابا د اوزگار شیا ثوند په مرزی حساوي او د محنت او مشقت درس په دې ډول ورکوي:

ـــه سبق زده کړه د استاذه له فطرت
د عالم د نظام ثوند دے کفایت
کفایت کښې نه افراط او نه تفریط شته
په اوسط کښې شته کمي نه زیادت

حمزه بابا د پښتون قام ته د اتفاق درس ورکوي او د بې اتفاقۍ نه ئې منع کوي. لکه چې په یو موقع حمزه بابا د اتفاق برکت داسې ~~حساوي~~ بیانوي:

ـــه چې له ابره سره مل شي بخارونه باران راشي
اتفاق په اسمان راشي په زمین ئې برکت شي

ـــه بیلې لارې د صوفیانو منزل ته رسي

اتفاق ورلره روح دی ژوند که نوم حرکت دی.

*———*———*

## ځ) د رحمان بابا ابتدائي ژوند۔

رحمان بابا د پښتو تر ټولو نه زیات مقبول شاعر
دی کوم چې ۱۰۴۲ هـ کښې په بهادر کلي پېښور کښې
پیدا شوی وو۔ د رحمان بابا ذاتي ژوند بارې کښې مونږ
سره څه ښکاره معلومات نشته۔ رحمان بابا په کال
1118 هـ کښې وفات شوی وو او په هزارخوانی کښې دفن
دی

## د رحمان بابا د شاعرۍ اړخونه:-

د رحمان بابا د شاعرۍ درې اړخونه دي۔

1) د رحمان بابا صوفیانه شاعري

2) اخلاقي شاعري

3) عشقیه شاعري

## 1) د رحمان بابا صوفیانه شاعري:-

د رحمان بابا په کلام کښې صوفیانه رنګ ډېر چا
نه زیات ښکاري۔ بوره پښتون صوفي او حقیقي عاشق دی۔
د بابا د اصلاح صوفیانه کلام نه داسې لګي چې دا د اسلامي
فلسفې د میدان یو لوی فلسفي دی۔ په ظاهر خودانه ښکاري
چې رحمان بابا د چا صوفي مرید دی خو به طریقت کې ده
چشتیه طریقې لاس نیوه کړې وه۔ راځئ چې اوس د رحمان بابا
یو سو صوفیانه شعرونه ور اندې کو:

ـــه د رحمان حسن دیدار وینې په پرده کښې

[illegible] د شمعې رڼا په فانوس

په بل ځای وايي:

ـ دا حجاب چې نور عالم ئې حجاب بولي
دا زما او یار ترمیانه حجاب نه دے

ـ زه بې خپله پیتا نه یم مئین شوی
ستا له لورې په ما شوې ده ندا

ـ چې دا حسن معرفت ئې پیري پیرزو کړه
په رحمان باندې منت د پاک مولا دے

## 2 د رحمان بابا اخلاقي شاعري:

اخلاقي شاعري هر شاعر څه حد پورې چېړلې ده خو چې رحمان بابا د اخلاقیاتو موضوع څومره چېړلې ده دومره بل چا نده چېړلې - د رحمان بابا شاعري د نصیحتونو ډکه ده - د بابا شاعري اکثر مثلونه ګرځېدلي دي - د بابا اخلاقي شاعري د انسان د عملي فکر ډېره اهم اړخونو سره تعلق لري راځئ چې څو شعرونه اخلو:

ـ بې عمل که کتاب کېږدي په سر څه شو
ګویا اېښي ئې تر پښو لاندې کتاب دے

رحمان بابا د هغه علم په حق کښې نه دے چې کوم سره عمل نه وي لکه چې وائي

ـ علم وکړې هېڅ عمل ورباندې نه کړې
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړې

د حرام هم سخت خلاف دے لکه چې وائي

ـ مانه ملا په مشقت په محنت ښه ده
نه حرامه همیانۍ د ځا تر ملا